ASIAN DEVELOPMENT BANK
6 ADB Avenue, Mandaluyong City
1550 Metro Manila, Philippines
Tel + 63 2 632 4444
Fax + 63 2 636 4444
www.adb.org

NEWS RELEASE

خبرپاڼه

# په افغانستان کې د نوې کېدونکې انرژۍ د پراختیا په موخه د لمریزې برېښنا د لومړنۍ فابریکې د جوړولو لپاره د آسیا پراختیايي بانک مرسته وکړه

**کابل، افغانستان (۵ لیندۍ۱۳۹۶)** ــــ په افغانستان کې د نوې کېدووکې انرژۍ د تولید او پراختیا په موخه د آسیا پراختیايي بانک د ۲۰ میګاواټه په ظرفیت د لمریزې برېښنا د لومړنۍ فابریکې د جوړولو لپاره ۴۴/۷۶ میلیونو امریکایي ډالرو وړیا مرسته منظوره کړه.

"په ټول افغانستان کې د برېښنا لپاره اړتیا ورځ په ورځ ډېرېږي چې په دې توګه د کافي برېښنا نشتوالی په دې هیواد کې د اقتصادي ودې او عایداتي فرصتونو په وړاندې لوی خنډ بلل کیږي،" په افغانستان کې د آسیا پراختیايي بانک مشر ښاغلي سمویل تامیوا د دې ټکي په څرګندولو سره زیاته کړه: "د لمریزې برېښنا د تولید نوې پروژه چې په افغانستان کې د خپل ډول ترټولو ستره پروژه ده، نه یواځې پاکې او د باور وړ انرژۍ ته لاسرسی زیاتوي بلکه د دولتي او خصوصي سکتورونو د ګډ کار له لارې په راتلونکې کې د پانګونې لپاره په دې برخه کې ښه چاپېریال رامینځته کوي."

سره له دې چې د ۲۰۰۲ کال را پدیخوا د انرژۍ په سکتور کې د پام وړ پرمختګ شوی، خو لا هم افغانستان د خپلو کورنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د ګاونډیو هیوادونو څخه په وارداتي برېښنا پورې تړلی دی. یواځې د هیواد د نفوسو په سلو کې ۳۲ خلک د هیواد کورنۍ برېښنا ته لاسرسی لري په داسې حال کې چې د هیواد په لویو ښارونو کې د برېښنا لپاره اړتیا په کال کې ۲۵ سلنه ډېرېږي. په وارداتي برېښنا باندې اتکا، د کورنۍ برېښنا د تولید ټیټ ظرفیت، د کورنۍ برېښنا کوچنی بازار، او مالي ستونزې هغه څه دي چې په افغانستان کې د انرژۍ سکتور د ودې او پراختیا مخه نیسي.

د وړاندې وینو له مخې، افغانستان کولای شي په ټوله کې د ۳۰۰ زره میګاواټه څخه ډېره برېښنا په کور دننه تولید کړي چې په دې کې ۲۲۲ زره میګاواټه لمریزه برېښنا راځي.

د دې پروژې له مخې به د سروبي ولسوالۍ په نغلو سیمه کې د ۲۰ میګاواټه په ظرفیت سره د شبکې دننه د لمریزې برېښنا یوه فابریکه جوړه شي. د لمریزې برېښنا د تولید فابریکه به د یوه کال په اوږدو کې نږدې ۴۳ زره میګاواټه لمریزه برېښنا تولید کړي او په یوه کال کې به ۱۳ ټنه کاربن ډای اکساید د تولید مخه ونیسي.

د دې پروژې په بشپړېدو سره به، په کابل، ننګرهار او لغمان ولایتونو کې د برېښنا د کمښت ستونزه تر یوه حده پورې حل شي. سربېره پردې، به دا پروژه د موجودو سب سټیشنونو ظرفیت لوړ کړي، د برېښنا ترانسفرمرونه او نورې لازمې آسانتیاوې به برابرې کړي او د ۳ کلونو لپاره د ساتنې او څارنې خدمتونه وړاندې کړي. د پراختیايي همکارانو او خصوصي سکتور د نورو مرستې په صورت کې، به په راتلونکې کې د دې پروژې ظرفیت د ۳۰ څخه تر ۴۰ میګاواټه پورې لوړ شي.

د لمریزې برېښنا د فابریکې د ډیزاین په برخه کې د افغانستان برېښنا شرکت او انرژۍ او اوبو وزارت د کارکوونکو د کارې وړتیاوو لوړول، تخنیکي ارځونه، د برېښنا د شبکې یوځای کول، او ساتنه او څارنه د دې پروژې برخې جوړوي. دا پروژه د حکومت د انرژۍ د تامینولو د ملي پروګرام او د نوې کېدوونکې انرژۍ د پالیسۍ سره سمون لري.

د آسیا پراختیايي بانک د انرژۍ په سکتور کې د افغانستان د سترو ملګرو څخه دی. نوموړي بانک په افغانستان کې د ۵ میلیونو څخه زیاتو خلکو ته د برېښنا په رسولو کې مرسته کړېده. په راتلونکو کلونو کې، به د آسیا پراختیايي بانک د ۳۰ سلنې څخه ۸۰ سلنې ته د برېښنا د کچې په لوړولو او همدارنګه تر ۲۰۳۰ کال پورې د ۲۰ سلنې څخه ۶۸ سلنې ته د برېښنا د تولید د کچې په لوړولو کې مرسته وکړي. د آسیا پراختیايي بانک به همدارنګه په کور دننه او سیمه کې د برېښنا په لیږد او د پاکې انرژۍ د تولید په زیاتولو کې خپل رول ترسره کړي.

**زموږ د ټویټرآدرس: @ADB_HQ**

د اړیکې شمیرې:

سید مسعود علم
شماره تماس: ۳۰۱ ۲۱۰ ۲۰۲ ۹۳+
شماره موبایل: ۵۰۶ ۸۱۵ ۷۰۸ ۹۳+
ایمیل: salam.consultant@adb.org

د آسیا پراختیایي بانک چې مرکزي دفتر یې د فیلیپین په پلازمینه مانیلا کې دی، د دوامداره اقتصادي ودې، د چاپیریال ساتنې د ښه والي او سیمه ایز پیوستون له لیارې په آسیایي هیوادونو او اوقیانوسیه کې د بیوزلۍ د کچې د راکمولو لپاره کار کوي. د آسیا پراختیایي بانک په ۱۹۶۶ کال کې جوړ شوی چې ټولټال ۶۷ غړي لري چې ۴۸ یې آسیایي هیوادونه دي. دا بانک د سیمه ایزو همکاریو ۵۰ کلیزه لمانځي. په ۲۰۱۶ کال کې، د دې بانک د مرستو کچه ۳۱/۷ ملیارده ډالره وه چې په هغې کې ۱۴ میلیارده ډالره ګډ تمویل شامل وو.